# په سکاټلنډ کښې د ښځینه همجنس بازو، نارینه همجنس بازانو او متقابلي جنسي اړیکو لرونکو (LGBT) مهاجرینو لپاره مشوره

LGBT - Pashto

د ۲۰۱۱ کال د اپریل میاشت

مونږ توپیرونه ته د قدر په سترګه ګورو، د ټولو سره یوشان، په احترام او درنښت چلن کوو. متاسفانه یو شمیر خلک شاید د هغوی د نژاد او جنسي جهت موندني (جنسي پیږدنګلوي) د کبله د تعصب سره مخامخ شي. که چیري تاسو د خپلو جنسي اړیکو یعني یا د ښځینه همجنس بازي، نارینه همجنسي بازي او یا هم د متقابلي جنسي اړیکو (LGBT) له کبله د تعصب، سپکاوي او د محکمي سره مخامخ شوي یاست او د نومړو دلایلو پر اساس په برتانیا کښي د پناه غوښتونکي یاست، نو دغه خبرپاڼه کولای شي تاسو ته هغه ځاي چه ستاسو سره په دي اړه مرسته، سلامشوري او معلومات کولای شی معلومات درکوي.

د ۱۹۵۱ م کال د مهاجرینو د کنونسیون یا تړون پر اساس:

"هر هغه څوک چه د خپل نژاد، مذهب، ملیت، د یو ټولنیزې ډلي د غړیتوب له کبله، او یا هم د سیاسی مفکورې له کبله په خپل هیواد کښي د محکمي د کواښ سره مخامخ وي د خوندیتوب حق لري"

تر همدي نږدي وختونو پوري ښځینه همجنس بازانو، نارینه همجنس بازانو، او د متقابلو جنسي اړیکو درلودونکو لپاره ستونزمنه وه چه ثابته کړي په برتانیا کښي د پناه اخستلو لپاره هغوی د پورته ذکر شوي قانون د ګټو څخه برخمن دي. د ۲۰۱۰ کال د جولای د میاشتي په اوومه نیټه یوې ځانګړي محکمي چه د ایچ جي (ایران) او ایچ ټي( کمرون) په اړه یی پریکړه کوله، د کورنیو چارو وزیر [۲۰۱۰] یو کې ایس سي۳۱ ته معلومه شوه چه هغه کسانو چه د جنسي اړیکو له کبله د محکمي د خطر سره مخامخ دي په برتانیا کښي پناه ترلاسه کولای شي. نوموړي قانون متقابلي جنسي اړیکه تر پوښښ لاندي نه نیسي اما کیدای شي ګټوري تمامي شي. د دي پریکړه په اړه بشپړ معلومات د برتانیا د ستري محکمي پر ویب پاڼه باندي ترلاسه کولای شی.

http://www.supremecourt.gov.uk/docs/UKSC_2009_0054_Judgment.pdf

**د محکمي دغه پریکړه د ښځینه همجنس بازانو،نارینه همجنس بازانو او د متقابلو جنسي اړیکو (LGBT) درلودونکو ته څه معني لري؟**

که چیري تاسو د خپلو جنسي اړیکو د درلودلو پر اساس د پناه غوښتونکي یاست، نو اوس داسي بل قانون شته چه کولای شي ګټور تمام شي. دا اړینه ده چه په یاد ولري چه که څه هم د نوموړي موضوع پر اساس د پناه غوښتلو پر وړاندي ډیری خندونه لیري شوي دي خو دا پدي معني نه ده چه تاسو ته به په برتانیا کښي پناه درکړل شي.

دي محکمې همدا ډول پرېکړه وکړه، چه د ښځینه همجنس بازان او نارینه همجنس بازان باید توقع ونلري چه د خپلې جنسي اړیکو د پڼدګلوي پراساس به په خپل هیواد کښې د محکمه کیدلو څخه خوندي شي. دغه پریکړې د برتانیا د کورنیو چارو د وزارت لپاره دنده نوره هم ستونزمه کړه ترڅو پریکړه وکړي چه تاسو د خپلو جنسي اړیکو د پیرندني پراساس په خپل اصلي هیواد کښې خوندي پاتې کیدای شی او که څنګه.

د ۲۰۱۰ کال د مې د میاشتي په ۲۰مه د برتانیا د اوسني دولت لخوا په بشپړه موافقه پریکړه لیک کښې راغلي:
"مونږ د ځانګړو هیوادونو د هغو پناه غوښتنکو چه د خپلو جنسي پیرندګولی له کبله په خپل هیواد کښې د بند، وهلو ټکولو او یا اعدام سره مخامخ وو بیرته استول بند کړي دي"

**که چیري زه ښځینه همجنس باز، نارینه همجنس باز او یا هم د متقابلو جنسي اړیکو درلودونکی وم او د نورو اړیکو له کبله د محکمې د خطر سره مخامخ وم زه باید څه وکړم؟**

که چیري تاسو د خپلو جنسي اړیکو د پیرندې په اساس د محکمې سره مخامخ شوي یاست نو تاسو باید:

- باید **ژر تر ژره** د کورنیو چارو وزارت ته پدې اړه خبر ورکړي. که چیري تاسو داسې ونکړي نو ستاسو اعتبار د پوښتنې سره مخامخ کیدلای شي، او ستاسو د پناه اخستلو پر غوښتنه باندې جدي اغیزه لرلای شي.
- دغه معلومات د اطمیناني مشاور، لکه د قضیو په اړه زمونږ د یوه کارکوونکي، د مهاجرینو لپاره په یوه بل سازمان کښې د یوه مشاور او یا هم د خپل وکیل سره شریک کړي. مشاور هلته ستاسو د مرستې لپاره دي، او ستاسو ورکړل شوي معلومات خوندي او محفوظ دي. هغوی به نور مسلکي کسان چه کولای شي ستاسو سره مرسته وکړي در وپیژني.
- د خپل ځان لپاره یو داسې وکیل غوره کړي چه د پورته جنسي اړیکه په اړه پوهه ولري، او که چیري ستاسو وکیل په ورته قضیه باندې د پخوا کار نه ویکړی نو یقیني کړی چه هغوی د ذکر شوو معلوماتو په اړه پوهاوی لري.

**څوک زما سره مرسته کولای شي؟**

**د مهاجرینو اداري او د رضاکارانو د برخې ډلي**

د مهاجرینو اداري، د سکاټلنډ د مهاجرینو کونسل او یا هم د رضاکارانو د ښځینه همجنس بازو، نارینه همجنس بازو او یا هم د متقابلو جنسي اړیکو د برخې ډلې او اداري کولای شي ستاسو سره د اړینو معلوماتو په ترلاسه کولو کښې مرسته وکړي. پدې کښې حقوقي، روغتیایي او ټولنیز ملاتړ کوونکو ډلو ته لاس رسی شامل دي. هغوی همدارنګه کولای شی ستاسو سره د هغه بدسلوک او تعصب په اړه چې ستاسو د هستوګنې په سیمه کښې ترسره شوی مرسته وکړي.

دغه ډلې او ادارې به ستاسو د معلوماتو محرمیت خوندي وساتي او تر هغه چه تاسو خپله نه وي غوښتي د هیچا سره به ستاسو معلومات شریک نکړي. همدا ډول ژباړونکي هم باید ستاسو د معلوماتو محرمیت وساتي؛ د هغوی چلند باید مسلکي وي او ستاسي معلومات د هیچا سره شریک نکړي. که چیرې تاسو د تیلفون له لارې د معلوماتو ورکولو ته زړه نه شه کوي نو کولای شی د تیلفوني ژباړې د خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره غوښته وکړي.

د نورو ګټورو ویب پاڼو یو لیست دغه دي:

**د مساواتو شبکه (Equality Network)**

www.equality-network.org/Equality/website.nsf/home?OpenForm

د سکاټلنډ د LGBT ځوانانو اداره

**(LGBT Youth Scotland)**

www.lgbtyouth.org.uk

**سوټنوال سکاټلنډ (Stonewall Scotland)**

www.stonewall.org.uk/scotland

**د سکاټلنډ د متقابلو جنسي اړیکو اداره**

**(Scottish Transgender Alliance)**

http://www.scottishtrans.org/

**د برتانیا د ښځینه همجنس بازانو او نارینه همجنس بازانو اداره**

**(UK Lesbian and Gay Immigration Group)**

32-36 Loman Street, London, SE1 0EH

تلفون: 0207 922 7811

http://www.uklgig.org.uk/asylum.htm

**د ځورنې په اړه راپور ورکول**

پولیس هم د ښځینه همجنس بازانو، نارینه همجنس بازانو او د متقابلو جنسي اړیکو (LGBT) درلودنکو سره ډیره مرسته کوي، تاسو کولای شي د مرستې لپاره د پولیسو د اړوندي څانګې سره اړیکه ټینګه کړی.

که چیرې تاسو نشی کولای او یا هم نه غواړی چه د پولیسو سره په مستقیم ډول اړیکې ټینګې کړی نو کولای شي د یوې محرمې دریمې ډلې څخه مرسته وغواړي. دا کار تاسو ته اجازه درکوي چه د خپلې ځورونې په اړه یوه تجربه لرونکي رضاکار لکه د سکاټلنډ د مهاجرینو کونسل ته معلومات ورکړي (0800 085 6087). نوموړې کس به ستاسو ټول ورکړل شوي معلومات ولیکي او هغه بیا وروسته په تاسو پورې اړه لري چه غواړی پولیس ستاسو د معلوماتو په اړه پلټنې او تحقیقات وکړي او که څنګه.